د افغان خبریالانو
د خوندیتوب کمیټه

# کلنی ریپوټ
# ۲۰۲۰




AJSC
Afghan Journalists Safety Committee
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیته

## د مطالبو فهرست


د ریپوټ لنډیز ۱
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په هکله ۲
میتوډلوجي ۲
په ۲۰۲۰ کال کې د خبریالانو د خوندیتوب وضعیت ۳
د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالو د پېښو څو بیلګې ۵
د خبریالانو هدف وژنې ۹
د خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو پروړاندې دغه هدفي بریدونه څوک ترسره کوي ۱۰
د خبریالانو او رسنیو پر کار د خبریالانو د هدفي وژنو اغیزې ۱۰
ولې خبریالان په هدفي توګه وژل کیږي؟ ۱۱
د خبریالانو د وژنو د قضیو د څیړنې برخه کې د حکومت ناکامي ۱۳
د سولې خبرې اترې، د بیان د ازادۍ او رسنیو نامعلوم ځای ۱۳
د بیان ازادۍ او رسنیو د ساتنې طرحه ۱۴
پایله ۱۵
سپارښتنې ۱۶

## د ریپوټ لنډیز

افغانستان په یو خاص تاریخي موقعیت کې دی. د سولې وروستیو خبرو اترو له یوې خوا د افغانستان د اوږدې مودې جګړې د پای لپاره هیلې راپورته کړي، خو له بل لوري د تاوتریخوالو زیاتیدو، په ځانګړې توګه د خبریالانو او مدني ټولنې د فعالانو وژنو د سولې د بهیر د بریا په اړه جدي اندیښنې راپورته کړې دي. په ځانګړې توګه که ددغو خبرواترو په پایله کې یو سیاسي توافق رامنځته شي،نو ایا د بیان د ازادۍ او مدني ازادیو ارزښتونه چې د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې درج دي وبه ساتل شي. د۲۰۲۰ کال په وروسیتو کې د خبریالانو د وژنو پرله پسې لړۍ، د خبریالانو او رسنیو ترمینځ پراخه ویره رامینځته کړې ده؛ دغو بریدونو پر عیني او بې پرې خبورکونې باندې ناسمه اغیزه لرلې ده، داسې چې یو ګڼ شمیرخبریالان اعتراف کوي چې د غچ اخیستو له ویرې د یو لړخاصو مسلوو په اړه د رپوټ ورکونې په برخه کې بیا کتنه کوي چې په واقعیت کې د ځاني سانسور د زیاتیدو او پراختیا په معنا ده. له بلې خوا د کویډ ۱۹ له امله رامنځته شویو ناوړه اقتصادي اغیزو رسنۍ له ګڼو مالي ننګونو سره مخ کړې دي، چې له امله یې د خپرونو د تولید ظرفیت کم شوی دی.

رسنیزو بنسټونو او د مدني ټولنې فعالینو سره د سولې د پروسې پرمهال د بنسټیزو مدني حقونو له هغې ډلې نه د رسنیو د ازادۍ د ساتنې لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوریت د خبرو اترو په ټیم کې د منظم پروګرام نشتوالي او دغه ارزښت سره د طالبانو ایډیالوژیک مخالفت د بیان او رسنیو د آزادۍ د راتلونکې په اړه اندیښنې راپورته کړې دي. په ورته وخت کې د ۲۰۲۰ کال په پیل کې د رسنیو په قانون کې د اصلاحاتو راوستو لپاره د حکومت هڅو چې د تصویب په صورت کې به یې د رسنیو او بیان ازادي تر ډیره محدوده شوې وه  او دغه راز د خبریالانود وژنو قضیو د څیړنې لپاره د معنا لرونکې او جدي پاملرنې نشتوالي دغه اندیښنې لا زیاتې کړې دي.

په ۲۰۲۰ کال کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو پروړاندې ۱۳۲مورده د تاوتریخوالو پیښې چې (ټپي کیدل، وهل ټکول، تښتونې، د ګواښلو بیلابیل ډولونه، غلاوې او ناقانونه چلند) پکې شامل وو،ثبت کړي دي. د ۲۰۱۹په پرتله چې د تاوتریخوالو شمیرې ۱۰۵مورده وې دغو شمیرو سږکال ۲۶سلنه زیاتوالی موندلی دی.

۷تنه خبریالان او رسنیز کارکوونکي ۵ تنه د هدفي ترورونو او ۲ تنه د ماینونو د چاودنې په پایله کې وژل شوي دي. ۱۸ نورخبریالان او رسنیز کارکوونکي د دندې پرمهال ټپي شوي دی. ۱۰ خبریالان وهل شوي ټوکل شوي او ۴۷نور ګواښل شوي دی. له ۲۸ تنو سره بد او له سپکاوي ډک چلند شوی او ۱۳ تنه خبریالان او رسنیزکارکوونکي له ناقانونه چلند سره مخ شوي دي. ۷تنه خبریالان تښتول شوي دي او ۲ تنه هم د دندې پرمهال له غلا او شوکې سره مخ شوي. د کمیټې له لوري د راټولو شویو معلوماتو له مخې طالبان او داعش ډله د خبریالانو پروړاندې د ترټولو زیاتو تاوتریخوالو او ګواښونو مسوول دي، دولتي مسوولین او کارکوونکي بیا په دې برخه کې دویم ځای لري.

دا د افغان خبريالانو د خونديتوب کميټې ځوارلسم رپوټ دی چې خپرېږي. د کميټې په دغه رپوټ کې د خبريالانو د خونديتوب د وضعيت په اړه د وروستيو معلوماتو پربنسټ په ۲۰۲۰ کال کې د مطبوعاتو د ازادۍ، د خبريالانو د امنيت او حقونو په اړه يو واضح انځور وړاندې شوی دی. په دغه رپوټ کې هڅه شوې ده چې د خبريالانو او رسنيو د وضعيت په اړه تر ټولو مهمې مسلې وڅېړل شي. همدارنګه دغه رپوټ، د خبريالانو او رسنيزو کارکوونکو پر وړاندې تاوتريخوالي کره کوي او له هغو نه يوه دقيقه ارزونه او د ګواښونو او خطرونو د څېړنې، د مطبوعاتو د ازادۍ څارنه او د رسنيو د فعاليت تحليل وړاندې کوي.

## د افغان خبريالانو د خونديتوب کميټې په هکله

د افغان خبريالانو د خونديتوب کميټه په افغانستان کې د خبريالانو د ملاتړ ترټولو لويه اداره ده. کميټه يوه خپلواکه او غير انتفاعي موسسه ده چې اصلي دنده يې د خبريالانو د خونديتوب فضا ته وده ورکول او د رسنيو او بيان د آزادۍ ارزښتونو ساتل دي. د کميټې مرکزي دفتر په کابل کې دی او په ۳۴ ولايتونو کې استازي لري. سربېره پردې کميټه له ټولو هغو نړيوالو ادارو سره همکاره ده چې د رسنيو او خبريالانو د آزادۍ د ملاتړ لپاره کار کوي او په افغانستان کې د بيان د آزادۍ اړوند موضوعاتو کې له نږدې همغږي لري او فعاليت کوي.

## ميتوډلوجي

د افغان خبريالانو د خونديتوب کميټه د معلوماتو د راټولو او د قضيو د ثبت لپاره يوه ځانګړې او له نړيوالو معيارونو سره سمه کړنلاره کاروي او د خپلو شپږ مياشتنيو او کلنيو رپوټونو د چمتو کولو لپاره ورڅخه ګټه اخلي. کميټه د رسنيو کارکوونکو، خبريال، تاوتريخوالي او ګواښ لپاره ځانګړي تعريفونه لري او د دغو ځانګړو تعريفونو له مخې، خبريالانو پورې اړونده قضيې ثبتوي او ورته حل لارې مومي.

د افغان خبريالانو د خونديتوب کميټه، افغانستان کې په خبريالانو پورې اړوند ټولې قضيې ثبتوي. مګر هغه قضيې چې د کميټې د معيارونو له روحيې سره برابرې نه وي هغه په جلا توګه ياداښتوي او د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي د قضيو په توګه يې په شپږمياشتنيو يا کلنيو رپوټونو کې نه شاملوي. د بيلګې په توګه که يو خبريال د شخصي مسايلو يا د کورنيو دښمنيو په خاطر له ګواښ سره مخ کيږي يا وژل کيږي، کميټه دغه قضيه په خپل ډيټابيس کې په جلا توګه ثبتوي، خو ددې لپاره چې ياده قضيه د خبريالۍ له کار سره مستقيمه اړيکه نه لري يا د خبريالۍ د کار په جريان کې نه ده پيښه شوې، د کميټې په رپوټ کې نه راوړل کيږي.

د رپوټ چمتو کولو لپاره معلومات او شميرې د افغانستان له ۳۴ ولايتونو څخه را ټوليږي. د ګواښونو او تاوتريخوالو په اړه د رپوټونو د کره توب او له رسنيز کار سره يې د تړاو په اړه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، د ارزونې له دقيقو او منل شويو لارو چارو څخه کار اخستل کيږي. دغه چاره په ځانګړې توګه د خبريالانو پروړاندې د تاوتريخوالو او د هغو د عاملينو برخه کې د دقت لپاره ځانګړی اهميت لري. ددې لپاره چې د افغانستان په شته پيچلو حالاتو کې چې تر ډيره دقيقې شميرې موجودې نه وي، دغه معلومات کولای شي د خبريالانو او رسنيو پر وړاندې د ستونزو د مقابلې لپاره د اغيزناکو پاليسيو د پراختيا برخه کې مرسته وکړي.

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې رپوټونه، یوازیني منظم رپوټونه دي چې په افغانستان کې د بیان د ازادۍ د وضعیت او د خبریالانو د امنیت په اړه خپرېږي. ټولې( ملي او نړیوالې) اداري کولای شي له دغو رپوټونونه په استفادې سره د خبریالانو او رسنیو په اړه د موجودو واقعیتونو په تړاو سم پوهاوی د ولایتونو په تفکیک سره ترلاسه کړي. د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه هیلمنه ده چې دغو شمیرو ته له محدودیته پرته لاسرسي سره، اداري وکولای شي په افغانستان کې د خبریالانو او رسنیو د دفاع برخه کې لا کلک دریځ غوره کړي. له دې سره کمیټه له نړیوالو ادارو سره د همکاریو د زمینې په برابرولو سره په دوامداره توګه د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو شمیرې او د بیان پر ازادۍ د بریدونو معلومات او شمیرې له هغوی سره شریکوي.

## په ۲۰۲۰ کال کې د خبریالانو د خوندیتوب وضعیت

سره له دې چې ۲۰۱۹ کال نظر تیرو کلونو ته د خبریالانو لپاره یو مرګونی کال و، خو ۲۰۲۰ کال د خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو پروړاندې د پام وړ تاوتریخوالو شاهد و. په دغه کال کې تر ټولو مهمه مسله د تاوتریخوالو د بڼې بدلون دی چې خبریالان او رسنیز کارکوونکي پکې په هدفي توګه وژل کیدل.

د خبریالان د هدفي وژنو لړۍ د طلوع نیوز تلویزیون د پخواني ویونکي یما سیاوش په وژلو سره پیل شوه هغه اوس مهال حکومت کې کارکاوه. په کابل کې د یما سیاوش تر وژنې وروسته په هلمند کې د ازادۍ راډیو خبریال الیاس داعي ووژل شو، په ننګرهار کې د انعکاس تلویزون خبریاله ملاله میوند او په غزني کې د رویترز خبریال رحمت الله نیکزاد ووژل شول. الیاس داعي او یما سیاوش په بمي چاودنو کې ووژل شول او ملاله میوند او رحمت الله نیکزاد په ډزو سره ترور شول. ددغو وژنو  ښکاره بڼه دا څرګندوي چې دا د خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو د وژلو یوه پراخه لړۍ ده.

له دغو وژنو سربیره په ۲۰۲۰ کال کې لسهاوو نور خبریالان د بیلابیلو لوریو لخوا لکه، حکومت، طالبانو، داعش او زورواکو له خوا ګواښل شوي دي. دغه ګواښونه په ځانګړې توګه د خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو د هدفي ترورونو له پیل وروسته زیات شوي دي. د ګواښونو د ډیروالي له امله یو شمیر هغو خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو خپل ولایتونه چې پکې یې کار کاوه پریښې دي او کابل کې استوګن شوي دي. یو شمیر خبریالانو هم د لنډ مهال لپاره افغانستان پریښې دی.

په ۲۰۲۰ کال کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو پروړاندې ۱۳۲ مورده د تاوتریخوالو پیښې چې (ټپي کیدل، وهل ټکول، تښتونې، د ګواښلو بیلابیل ډولونه، غلاوې او ناقانونه چلند) پکې شامل وو، ثبت کړي دي. د ۲۰۱۹ په پرتله چې د تاوتریخوالو شمیرې ۱۰۵ مورده وې دغو شمیرو سږکال ۲۶ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

۷ تنه خبریالان او رسنیز کارکوونکي ۵ تنه د هدفي ترورونو او ۲تنه د ماینونو د چاودنې په پایله کې وژل شوي دي. ۱۸ نورخبریالان او رسنیز کارکوونکي د دندې پرمهال ټپي شوي دی. ۱۰ خبریالان وهل شوي ټوکل شوي او ۴۷ نور ګواښل شوي دی. له ۲۸ تنو سره بد او له سپکاوي ډک چلند شوی او ۱۳ تنه خبریالان او رسنیزکارکوونکي له ناقانونه چلند سره


مخ شوي دي. ۷ تنه خبریالان تښتول شوي دي او ۲ تنه هم د دندې پرمهال له غلا او شوکې سره مخ شوي.

د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالو د عاملینو په اړه د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې له خوا د راټولو شویو شمیرو او څیړنو له مخې، طالبان او داعش ډله د خبریالانو پروړاندې د ۴۴ سلنه تاوتریخوالو او ګواښونو عاملین وو. حکومتي مسوولین بیا د ۳۱ سلنه تاوتریخوالو عاملین ول. د حکومتي مسوولینو له خوا د ترسره شویو تاوتریخوالو بڼه تر ډیره کمزورې وه په داسې حال کې چې د طالبانو او داعش ډلې له لوري ترسره شوي تاوتریخوالي قهرجن او وژونکي وو. دولتي مسوولینو تر ډیره لفظي ګواښونه او فزیکي بریدونه او ګوزارونه کړي، په داسې حال کې چې داعش ډلې او طالبانو بیا په مستقیمه توګه پر رسنیو او خبریالانو بریدونه کړي دي.

ناپیژانده کسان خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو پروړاندې د ۱۱سلنه او زورواکي د ۳ سلنه تاوتریخوالو مسوول دي. د رسنیو څښتنان او مدیران بیا له خبریالانو سره د قانونه کړنو په خاطر د ۱۰ سلنه تاوتریخوالو پېره پرغاړه لري.

په دې ترڅ کې د پلازمینې زون د ۳۳ سلنه ګواښونو او تاوتریخوالو د مواردو په لرلو سره د ترټولو زیاتو مواردو لرونکی زون او د شمال زون (بلخ، جوزجان، فاریاب او سرپل) ولایتونه د ۴ سلنه تاوتریخوالو په لرلو سره د خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو پر وړاندې د ترټلو لږو مواردو لرونکی زون پیژندل شوی دی.

دغه کال کې ۱۸خبریالې او رسنیزې کارکوونکې میرمنې هم له ګواښونو او تاوتریخوالو سره مخ شوې دي چې په ټوله کې د تاوتریخوالو د قضیو ۱۴ سلنه جوړوي.



## د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالو د پیښو څو بېلګې

۱-قضیه:
د غزني ولایت یوې ښځینه خبریالې د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر میاشت کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې سره شکایت ثبت کړ چې د طالبانو له لوري ورته ټلیفون شوی او ګواښل شوې دی. طالبانو د ګواښ علت د والي په یوه غونډه کې د هغې ګډون بللی و او ویلي یې وو چې هغې ولې ددوی له اجازې پرته د والي په غونډه کې برخه اخستې ده او ورته یې ویلي وو چې له دې وروسته چې هرې غونډې ته ځي باید له هغوی نه اجازه واخلي.

۲-قضیه:
د ۲۰۲۰ کال جولای میاشت کې په خوست ولایت کې د یوه خبریال کور د ملي امنیت د کارکوونکو له لوري له مخکنۍ خبرتیا او د څارنوال له موجودیت پرته په ناقانونه توګه تالاشي شو. د ملي امنیت کارکوونکي د زینې په ایښودو سره د دیوال له لارې د هغه کورته ورواوښتل او هغه یې وګواښه.

۳-قضیه:
د یوې خصوصي رسنۍ د خبریال کمره د یوې خبرې خپرونې د پوښښ په جریان کې په تصادفي توګه د حکومتي کسانو لخوا ماته شوه، خو کله چې هغه له دندې استعفا ورکوله د یادې رسنۍ د دفتر له خوا د نومورې د درې میاشتو تنخوا د تاوان په توګه ورنه وګرځول شوه.

۴-قضیه:
د ازادۍ راډیو او پژواک خبري اژانس خبریالانو د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ په ۲۷مه په ده یک ولسوالۍ کې د الوتکې غورځېدو د پېښې خبري پوښښ ته ورغلي وو چې د طالبانو لخوا ونیول شول او بیا وروسته د سیمه ییزو مشرانو په تضمین او همکارۍ چې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې له خوا یې زمینه برابره شوې وه بیرته راخوشې کړل شول.

۵-قضیه:
د ۲۰۲۰ کال په نوامبر کې په دایکندي ولایت کې د یوې سیمه ایزې راډیو خبریال د پولیسو له لوري له سپکاوي او وهلو ټوکلو سره مخ شو. دغه پیښه هغه مهال رامنځته شوه چې یو شمیر مسافرین په شهرستان ولسوالۍ کې د وسله والو غلو له خوا وشکول شول او هغوی د امنیه قوماندانۍ دروازې ته د شکایت کولو لپاره ورغلي وو او خبریالان یې هم هلته ورغوښتي وو.

په لاندنیو جدولونو کې په مشخصه توګه د ټولو تاوتریخوالو او ګواښونو د مواردو جزییات راخستل شوي دي.

| ۱-شمیره جدول: د۲۰۲۰پرتله له ۲۰۱۹میلادی کال سره | | | |
|---|---|---|---|
| د پیښې ډول | ۲۰۱۹ | ۲۰۲۰ | د سلنو زیاتوالی ⬆ د سلنو کموالی ⬇ |
| وژل شوي | ۵ | ۷ | ⬆ ۴۰ سلنه زیاتوالی |
| ټپیان | ۱۸ | ۱۸ | |
| وهل ټکول | ۱۲ | ۱۰ | |
| ګواښ | ۲۵ | ۴۷ | |
| سپکاوی او بد چلند | ۳۳ | ۲۸ | |
| ناقانونه چلن | ۲ | ۱۳ | |
| ناقانونه نیونې | ۳ | ۰ | |
| تښتونې | ۷ | ۷ | |
| غلا | ۰ | ۲ | |
| ټول | ۱۰۵ | ۱۳۲ | ⬆ ۲۶ سلنه زیاتوالی |


| ۲-جدول: د قضیو شمیر د ډول له مخې | | |
|---|---|---|
| د قضیې ډول | شمیر | سلنې |
| وژل شوي | ۷ | ۵ ٪ |
| ټپیان | ۱۸ | ۱۴ ٪ |
| وهل ټکول | ۱۰ | ۷ ٪ |
| ګواښ | ۴۷ | ۳۶ ٪ |
| سپکاوی او بد چلند | ۲۸ | ۲۱ ٪ |
| ناقانونه چلن | ۱۳ | ۱۰ ٪ |
| تښتونې | ۷ | ۵ ٪ |
| غلا | ۲ | ۲ ٪ |
| ټولې | ۱۳۲ | ۱۰۰ ٪ |

## ۳-شمیره جدول : د قضیو شمیر د زونونو په اساس

| زون | شمیر | سلنه |
|---|---|---|
| شمال | ۵ | ٤ |
| شمال ختیځ | ۲۰ | ۱۵ |
| ختیځ | ۹ | ۷ |
| سویل ختیځ | ۱۷ | ۱۳ |
| سویل | ۱٦ | ۱۲ |
| مرکزي | ۱۲ | ۹ |
| لویدیځ | ۹ | ۷ |
| د پلازمیني زون | ٤٤ | ۳۳ |
| ټولي | ۱۳۲ | ۱۰۰ |





د گراف پراساس د ٤ جدول سلنه




قضیي د زونونو په اساس


## ٤-شمیره جدول: د قضیو شمیر د عاملانو له مخې

| عاملان | دولت | | داعش او طالب | | نا پیژانده کسان | | زوراوکي | | غله | | د رسنیو مسوولین | | ټولې | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ٤١ شمیر | ٣١ سلنه | ٥٨ شمیر | ٤٤ سلنه | ١٤ شمیر | ١١ سلنه | ٤ شمیر | ٣ سلنه | ٢ شمیر | ٢ سلنه | ١٣ شمیر | ١٠ سلنه | ١٣٢ شمیر | ١٠٠ سلنه |




د گراف پراساس د ٤ جدول سلنه

## ۵-شمیره جدول: په ۲۰۲۰میلادي کال کې د قضیو شمیر د ولایتونو په اساس




قضیې شمېرې د ولایتونو په اساس

## د خبریالانو هدفي وژنې

د طلوع نیوز د سیاسي خپرونو پخوانی وړاندې کوونکی یما سیاوش، چې شاوخوا درې کاله له رسنیو څخه لرې و او په دې وروستیو کې یې (د افغانستان بانک) دولتي بانک لپاره کار کاوه د ۱۳۹۹ کال د تلې په۱۷ مه نیټه په یوه چاودنه کې ووژل شو. پولیسو ویل چې پیښه د ښاغلي سیاوش موټر پورې د نښلول شوې مقناطیسي ماین د چاودنې له امله رامنځته شوې ده. د پیښې په لومړیو ورځو کې د دولت لخوا د سیاوش کورنۍ او خلکو ته ډاډ ورکړل شو چې دهغه د وژل کېدو په اړه څېړنې روانې دي. مګر له دغې پیښې د درې میاشتو په تېرېدو سره لاهم د څېړنو پایلې له رسنیو سره نه دي شریکې شوي.

د ازادۍ راډیو خبریال الیاس داعي په لشکرګاه ښار کې په ورته پېښه کې د یاما سیاوش له وژل کېدو څخه یوه اوونۍ نه لږ وخت کې ووژل شو. که څه هم طالبانو د ښاغلي داعي د وژنې مسوولیت په غاړه نه دی اخیستی، خو یوتن چې هلمند ولایت کې د ۱۳۹۹ د قوس په ۲۱ مه د داعي د وژنې په تړاو نیول شوی وایي چې هغه د طالبانو له خوا ګمارل شوی و چې د ښاغلي داعي په موټر کې مقناطیسي ماین ځای په ځای کړي. تر دې دمه په دې اړه د وروستیو تحقیقاتو پایلې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې، رسنیو او خلکو سره نه دي شریکې شوي.

ملاله میوند په ننګرهار ولایت کې د تلویزوني خپرونو لومړنۍ ښځینه ویونکې وه چې په جلال اباد ښار کې د ۱۳۹۹ کال د لیندۍ په ۲۰مه د وسله والو کسانو لخوا تر برید لاندې راغله او له خپل موټر چلونکي سره ووژل شوه. داعش ددغې پیښې پړه په خپله یوه انلاین شبکه کې پست کولو سره پر غاړه واخیسته، د ننګرهار والي اعلان وکړ چې د ملالې میوند د وژنې په تړاو یو تن نیول شوی دی. مګر تر دې دمه د تحقیقاتو د جزیاتو په اړه حکومت له دې پرته د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې، د رسنیو او د هیواد رسنیزې کورنۍ ته د معلوماتو په ورکړه کې بریالی نه و.

د الجزیره شبکې خبریال او د غزني د ژورنالیستانو د اتحادیې مشر رحمت الله نیکزاد د مرغومي میاشتې په لومړۍ په غزني کې د هغه کور ته نږدې د ناپیژندو وسله والو په برید کې ووژل شو. تر دې دمه کومې ډلې یا کس د ښاغلي نیکزاد د وژنې مسوولیت نه دی منلی.

حکومت اعلان وکړ چې ددغې پیښې په تړاو یې څو کسان نیولي دي، په یوه ویډیو کې چې خپره شوه ولیدل شول چې یو کس اعتراف کړی دی چې ښاغلی نیکزاد هغه وژلی. مګر ددغې ویډیو له خپریدو وروسته بیا هیڅ ډول معلومات د افغانستان له رسنیزې کورنۍ سره نه دي شریک شوي.

د خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو د وژنې په اړه د دولت له لوري د جدي تحقیقاتو نه کولو د هیواد د رسنیزې ټولنې ترمنځ جدي اندیښنې رامنځته کړې دي. د څېړنو په اړه د معلوماتو په شریکولو کې د افغان حکومت ناکامي دا جوتوي چې یا خو دولت دغه پیښې نه تعقیبوي او یا هم دولتي اداري په ځانګړې توګه امنیتي هغه د خپلو فعالیتونو د بیانولو او تشریح کولو برخه کې له جدي نیمګړتیاوو سره مخ دي. دغه کار د رسنیو او دولت ترمنځ واټن لا زیات کړی دی او د خبریالانو پر وړاندې د جرایمو د ترسره کونکو لپاره یې معافیت زیات کړی دی.

## د خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو پروړاندې دغه هدفي بریدونه څوک ترسره کوي؟

تیرو کلونو کې طالبانو او داعش ډلې د خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو د وژنې او پر رسنیو د بریدونو مسوولیت پر غاړه درلود؛ او هم به یې ددغو پېښو مسوولیت مانه، مګر د۲۰۲۰ کال له پیله، طالبانو د دې وژنو مسوولیت پر غاړه نه دی اخیستی، داعش د دوو حملو مسوولیت منلی دی. د داعش لخوا په ترسره شویو بریدونو کې د خورشید ټلویزیون پر موټر باندې برید چې په مې میاشت کې وشو او په ډسمبرمیاشت کې په ننګرهار کې پر ملاله میوند بریدونه شامل دي.

د افغانستان حکومت په ځلونو پر طالبانو د خبریالانو او مدني ټولنو پر فعالانو د هدفي حملو پړه اچولې چې طالبان یې ردوي. د ۲۰۲۱کال د جنورۍ په۴ مه د غوڅ ملاتړ ځواکونو ویاند، سوني لیګټ ټویټ وکړ چې طالبان په خبریالانو او د مدني ټولنې فعالانو باندې د بریدونو مسوول دي او له  دوی یې وغوښتل چې د سولې پروسې د بریا لپاره دې ته اړتیا ده  چې طالبان دغه بریدونه ودروي.

که څه هم طالبانو د خبریالانو د هدفي وژنو بریدونو کې خپل لاس لرل رد کړي، خو د دې ډلې پلویانو په ټولنیزو رسنیو کې د نوامبر میاشتې راهیسې د خبریالانو د وژنو هرکلی کړی او په ډېری قضیو کې یې خبریالان واجب القتل بللي دي. هغوی خبریالان د لویدیځوالو روزل شوي او د هغوی لاسپوځي بللي او د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې هر ډول تاوتریخوالی یې نه یوازې دا چې جایز ګڼلی، بلکې دا کار یې یو غوره  مذهبي او شرعي امر هم بللی دی.

## د خبریالانو او رسنیو پر کار د خبریالانو د هدفي وژنو اغیزې

پر خبریالانو او رسنیو هدفي بریدونو د خبریالۍ پر کار او د خبریالانو پر عادي ژوند خورا بدې اغیزې لرلې دي. دغو بریدونو د رسنیو د پروګرامونو د تولید پروسه اغیزمنه کړې او د رسنیو کاري سیسټم کې یې د ګډوډې له امله د خبرونو او نورو رسنیزو موادو د تولید برخه باندې تاثیر کړی دی. دغو بریدونو د خبریالانو او رسنیو تر مینځ ویره رامنځته کړې ده او ډېری یې مجبور شوي چې له کوره یا په غیر عادي شفتونو کې کار وکړي. په ورته وخت کې یو شمیر خبریالان له غزني او هلمند غوندې ولایتونو نه کابل ته راغلي دي او دا کار ددې لامل شوی چې په هغو ولایتونو کې د خبري پوښښ کچه راټیټه شي.

ځاني سانسور د رسنيو تر مينځ پراخ شوی او په ځينو مواردو کې رسنۍ د تروريستي او افراطي ډلو د تخريبي فعاليتونو په اړه خبرونه نه خپروي. دا ځاني سانسور بيا په هغو ولايتونو کې بيخي ډېرشوی چېرته چې ناامني پراخه ده. په يو شمير ولايتونو کې د طالبانو استازي رسنيو ته لارښوونه کوي چې خپلې خپروني دې د دوی له لارښوونو سره سمې تنظيم کړي او يوازې هغه مسلې دې خپروي چې دې ډلې ته د منلو وړ وي. د بيلګې په توګه، په غزني ولايت کې دغې ډلې ډېری سيمه ايزو رسنيو ته لارښوونه کړې چې د دوی لخوا ورکړل شويو لارښوونو سره سم دې رسنيز کارونه کوي، که نه نو له ګواښ سره به مخ شي او حتی په نخښه به شي. په غزني ولايت کې طالبانو رسنۍ مجبوره کړې دي چې د دې ډلې لخوا ورکړل شوي خبرونه بايد په بشپړه توګه خپاره شي. هغه رسنۍ چې ددوی دغې غوښتنې ته مثبت ځواب ورنکړي له غچ اخيستو سره به مخ شي.

سربيره پردې په دغه ولايت کې ډېری رسنيو ته د دې ډلې لخوا لارښوونه شوې چې په تفريحي خپرونو کې کوربه بايد ښځينه نه وي او په دغو خپرونو کې بايد موسيقي خپره نشي. رسنۍ او خبريالان په دغه او نورو نا امنو ولايتونو لکه هلمند کې ډېری وخت په دې تورنيږي چې ګواکې د خبرونو په خپرولو کې د دولت اړخ نيسي او خبرونه يې متوازن نه دي په همدې خاطر تر فشارلاندې راځي. سره له دې چې خبريالانو تل هڅه کړې ده چې توازن وساتي خو طالبانو کله هم قناعت نه دی کړی.

اورپکې ډلې د هيواد په نا امنه سيمو لکه غزني او هلمند کې په جبري توګه او فشار راوستلو په ډېر احتمال سره غواړي چې د پرګرامونو د توليد په څرنګوالي او په رسنيو کې د خبرونو په خپريدا کنټرول ولري.

## ولې خبريالان په هدفي توګه وژل کيږي؟

د خبريالانو په نخښه کول د جنګ نوی تکتيک دی چې احتمال لري د سولې خبرو او د افغانستان سياسي راتلونکې سره مستقيم تړاو ولري. کميټه باور لري هغه ډلې چې په ژورناليستانو بريد کوي غواړي واک ته بيرته راستنيدو سره د بيان آزادي، آزادې رسنۍ او ازادو معلوماتو ته لاسرسی چې دوی يې د ځان پروړاندې لوی خنډ ګڼي له مخې لرې کړي. په ورته وخت کې، د خبريالانو وژل له تبليغاتي اړخه هم ارزښت لري. د هر خبريال په وژلو سره نه يوازې دا چې د ويرې او ترهې فضا پراخيږي بلکې د حکومت اعتبار، په ځانګړې توګه د امنيتي ادارو اعتبار کمزوری کيږي، د خلکو او دولت ترمينځ واټن زياتيږي او د خبريالانو او رسنيو ترمينځ ځاني سانسور ډېريږي. د هر خبريال وژنه پرخبريالانو، د رسنيو کارکوونکو او د آزادۍ او مدني ټولنې فعالينو باندې خورا ډېر رواني فشار راوړي. کميټه باور لري چې د خبريالانو وژنه په مستقيمه توګه د هغو ډلو رواني جګړې پورې اړه لري چې خبريالان په نخښه کوي او دوی ته دا زمينه برابروي چې ټوليز عواطف او احساسات زيانمن کړي او د پراخې نا اميدۍ په زياتولو سره خپل سياسي اهداف ترلاسه کړي.

د يو شمير کارپوهانو او ژورناليستانو په وينا، د خبريالانو پرله پسې وژنه مختلف لاملونه لري. ځينې په دې باور دي چې خبريالان د خلکو تر مينځ پيژندل شوي او دا چې د دوی وژنه د ټولنې په بيلابيلو برخو ژوره اغيز پرې باسي، د مسلکي بې پرې والي له مخې دوی ته معلومات ورکوي او يا دا چې خلک ورسره عادت کيږي او ددوی د خبرونو او راپورونو د وړاندې کولو له طريقې سره مينه او ليوالتيا پيدا کوي.

**ځینې دغه لاملونه او عوامل په لاندې ډول دي:**

نوراغا شریفي خبریال او د بلخ پوهنتون د ژورنالیزم استاد

ښاغلي شریفي د خبریالانو د وژنې یو علت نرمې جګړې ته د وسله والو ډلو په مخه کولو کې وینې. هغه وایي چې پدې وروستیو کې نرمې جګړې ته توجه زیاته شوې ده او اورپکې غواړي د خلکو په ذهنونو او فکرونو کې ویره رامینځته کړي او عامه افکار او خلک دا ومني چې ترهګر لوی قدرت دی. یو بل دلیل چې خبریالان په نخښه کیږي دا دی چې هغوی په ټولنه کې مشهور او پیژندل شوی کسان دي او وژنه یې په ټولنیزو شبکو کې په پراخه کچه انعکاس پیدا کوي.

د امریکا غږ اشنا راډیو خبریال میرویس بیژن

د ښاغلي بیژن په وینا، خبریالان د خلکو سترګې اوغوږونه دي. کله چې په یو دموکراتیک نظام کې د معلوماتو رسونکي او تحقیق کونکي تر برید لاندې راځي، په حقیقت کې د بیان د آزادۍ ستونی نیول کیږي.

اسدالله تیمور، د تخار ولایت د ژورنالیستانو د ملي اتحادیې غړی

د ښاغلي تیمور په وینا د خبریالانو مړینه د یوې سالمې او کلتوري ټولنې تدریجي مرګ دی چې موږ یې په خاطر تل قرباني ورکړې ده.

دې ته ورته د شاوخوا شلو نورو خبریالانو نظرونه د خبریالانو د وژنې د دلایلو په هکله دلته راخلو:

۱-د هرخبریال په وژل کیدو سره عمومي باور او د راتلونکې په اړه د خلکو هیلې کمیږي .
۲- خبریالان بې پرې دي او پرته له دې چې هیڅ ډول لیدلوری په پام کې ونیسي کار کوي، دغه کار په ټولنه کې ددوی د اعتبار او ځای د لوړیدو لامل کیږي. قاتلان یې پوهیږي چې د دوی په وژلو سره د ټولنې اروا زخمي کوي.
۳- د خبریالانو وژنه غوغا جوړوي او ټولیزې او ټولنیزې رسنیو کې خلک دغه موضوع باندې بوختیږي، چې دغه کار بیا د یوې روښانه راتلونکې په اړه د خلکو د امید سطحه را ټیټوي.
۴- د خبریالانو وژنه د خبریالانو او رسنیو ترمینځ د ځاني سانسور لامل کیږي او دغه ځاني سانسور ددې لامل کیږي چې خبریالان د اورپکو ډلو په جنایتونو سترګې پټې کړي.
۵- د خبریالانو وژنه ځکه مهمه ده چې له حکومت نه د امنیت د ټینګښت په برخه کې د خلکو د رضایت او سم لیدلوري باندې اغیز پرې باسي.

## د خبریالانو د وژنو د قضیو د څېړنې برخه کې د حکومت ناکامي

سرله دې چې د افغانستان حکومت ادعا کوي چې د خبریالانو د وژنو د قضیو په اړه څېړنې کوي خو ددغو څېړنو د پرمختګ په اړه ډېر لږ معلومات شریک شوي دي. د خبریالانو د وژنو په اړه د سمو معلوماتو د ورکړې برخه کې ناغیرۍ له مسوولیت نه تیښته ده. سره له دې چې د خبریالانو د وژنو له زیاتیدا نه دوه میاشتې تیرېږي، تراوسه امنیتي اداري نه دي توانیدلې د هغو کسانو په اړه چې خبریالان یې وژلي، د هغو د وژنو د انګیزې او د امنیتي ادارو د کړنو او دغه راز د خبریالانو د لازیاتې وژنو د مخنیوي په اړه سم او د رضایت وړ معلومات د هیواد رسنیزې کورنۍ ته ورکړي. حکومت تر اوسه یوازې اعلان کړی چې څو تنه یې د خبریالانو د وژنو په تړاو نیولي او دا هغه څه دي چې په هیڅ صورت کې نشي کولای چې د عدالت او ځواب ورکوونې برخه کې د هیواد رسنیزې ټولنې ته قناعت ورکړي.

سربیره پر دې په افغانستان کې د بیان د ازادۍ د ساتنې او په دې برخه کې د خطرونو د راکمونې لپاره ډېر کم کار شوی دی. تر اوسه د افغانستان حکومت نه دی توانیدلی چې هغسې چې لازمه ده د خبریالانو ساتنه وکړي، ان په هغو مواردو کې چې حکومت له پخوا معلومات هم لرلي دي په ځانګړې توګه په ولایتونو کې، امنیتي مسوولینو نه دي غوښتي یا نه دي توانیدلي چې پرته له دې چې خبریالانو ته دهغو خطرونو په اړه چې دوی ورسره مخ دي وړپام کړي، له دې پورته کوم بل غټ کار ورته وکړي او یا هم د خبریالانو د خوندیتوب او ساتنې لپاره لازمې تابیاوې ونیسي.

## د سولې خبرې اترې، د بیان د ازادۍ او رسنیو نامعلوم ځای

د سولې خبرو له پیلېدو را په دې خوا د هېواد رسنیزه ټولنه د دوو لسیزو تر ټولې د سترې لاسته راوړنې( بیان ازادۍ) راتلونکې ته اندېښمنه ده. حتا د افغانستان حکومت چې د اساسي قانون له مخې د بیان ازادۍ د ملاتړ او ځواکمنتیا مسوولیت ور تر غاړې دی، د سولې د خبرو په جریان  کې د هېواد د رسنیزې ټولنې د استازو او یا د افغانستان د اسلامي  جمهوریت په مذاکراتي ټیم کې کم له کمه د یو تن استازي ګډون ته مثبت ځواب ویلی نه دی. د افغانانو د خپل منځې خبرو د لومړي پړاو په وروستیو ورځو کې طالبانو د بیان ازادۍ د ساتنې ترڅنګ د یو لړ ارزښتونو د خوندیتوب یادونه کړې ده، خو ویلي دي، چې د بیان او رسنیو ازادي به د اسلامي اصولو په رڼا کې خوندي وي. خو له اسلام نه د دوی د تعبیر څرنګوالی هغه سوال دی، چې باید ځواب شي.

د بیان ازادۍ ته د ولسواکۍ د مهم اصل په توګه  د افغانستان د حکومت نه پاملرنه او د بیان ازادۍ د ساتنې په اړه د طالبانو د ډلې ګنګې او مبهمې څرګندونې د اندېښنې وړ دي. د افغانستان رسنیزه ټولنه د بیان د ازادۍ د راتلونکې په اړه چې د دوو وروستیو لسیزو یوه لویه لاسته راوړنه ده اندیښمنه ده.

## د بیان ازادۍ او رسنیو د ساتنې طرحه

له طالبانوسره د سولې خبرو اترو په جریان کې د خبریالانو د خوندیتوب او بیان د ازادۍ په اړه پورته اندېښنو ته په کتو، د بیان ازادۍ حق ته نه پاملرنې او د یوه قوي تعهد نشتوالي ته په پام سره، د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې د رسنیو د ازادۍ د ساتنې په موخه یوه طرحه چمتو کړه، چې د ملي پخلاینې شورا د رییس ډاکټر عبدالله عبدالله په ګډون د حکومتي بنسټونو له بېلابېلو مسوولینو او په دوحه کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکراتي ډلې له یو شمېر غړیو سره هم شریکه شوې ده. ښاغلي عبدالله د دې طرحې هرکلی او ملاتړ کړی او دا یې د ولسواکۍ د اصلي ستنې (بیان ازادۍ) د ساتنې په برخه کې مهم ګام بللی دی. په دې طرحه کې مخکې له دې چې د سولې بین الافغاني خبرې پیل شي، د بیان د ازادۍ د ساتنې په موخه د یوې کمېټې په جوړښت ټینګار شوی دی.

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې د بیان ازادۍ د ساتنې کمېټې د جوړولو په موخه یو لړ کارونه هم ترسره کړي او په کابل او ولایتونو کې یې کاري ګروپونه رامنځته کړي، چې د سولې خبرو په جریان کې د بیان ازادۍ د ساتنې په موخه عدالت غوښتنې وکړي. د بیان ازادۍ د ساتنې په کمېټه کې باید د رسنیو او خبریالانو او د ملاتړو بنسټونو استازي غړیتوب ولري.

د بیان د ازادۍ د ساتنې طرحه په درې برخو کې چمتو شوې چې له روغې وړاندې، د روغې په جریان کې او له روغې وروسته حالات او د هغو کارونو په اړه چې باید په دې اړه ترسره شي، پکې مشخص وړاندیزونه ځای کړل شوي دي. کمېټه باوري ده چې د دې طرحې په عملي کېدو او د رسنیو او د بیان ازادۍ د ساتنې کمېټې په جوړښت سره به د افغانستان د خلکو او رسنیزې ټولنې اندېښنې تر ډېره ځواب شي.

## پایله

په ۲۰۲۰ کال کې د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د خنډونو او ګواښونو نوې څپه را پورته شوه. د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالي نوې بڼه خپله کړه او یو شمېر خبریالانو په هدفي وژنو کې خپل ژوند له لاسه ورکړ چې ورسره په هیواد کې د خبریالۍ کار ډېر زیات اغیزمن شو. له دې سره د اطلاع رسوني ازاده فضا  تر بل هر وخته د لاسه تلو له خطر سره مخ شوه. د تبلیغاتي جګړې زور اخیستو او په دغه جګړه کې د متخاصمو ډلو په ځانګړې توګه د طالبانو او داعش تمرکز، رسنۍ او خبریالان تر ټولو زیات له ګواښ او زیان سره مخ کړي دي. د رسنیو کاري فضا ډېره محدوده شوې او له ستونزو سره مله ده. د رسینو ترمینځ ځاني سانسور مخ په زیاتېدو دی، خبریالان د سختو رواني فشارونو په ګاللو سره خپلو کارونو ته دوام ورکوي. د دې ترڅنګ کرونا ویروس په مالي لحاظ رسنۍ ډېرې وځپلې، رسنیز کارونه یې زیانمن کړل او یو شمېر رسنۍ یې ان د سقوط له ګواښ سره مخ کړې. د امنیتي ګواښونو او کرونا ناورین په ترڅ کې یو شمېر خبریالانو خپلې دندې له لاسه ورکړې او یو شمېر نورو خپلې دندې پرېښودې.

حکومت د خبریالانو د وژنو اړوند دوسیو په تعقیب کې هغه ډول چې اړتیا ده لازم ګامونه اخیستي نه دي او په دې برخه کې یې د قربانیانو کورنیو او د هېواد رسنیزې ټولنې ته د قناعت وړ ځواب ورکړی نه دی. د دې ترڅنګ د ګواښونو د مخنیوي په برخه کې د افغانستان د حکومت هڅې کافي او د قناعت وړ نه دي.

د خبریالانو د خوندیتوب وضعیت په ډېره جدي توګه خراب او اندېښمنونکی دی او د حکومت او نړیوالې ټولنې بشپړې پاملرنې ته تر بل هر وخت زیاته اړتیا لري، چې د سولې په اوسنۍ پروسه کې ورته د نه پاملرنې په صورت کې به د تېرو دوو لسیزو تر ټولو ستره لاسته راوړنه چې په خورا سختۍ ترلاسه شوې ده، له لاسه ووځي.

## سپارښتنې

د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټه د افغانستان له حکومت په ځانګړې توګه له امنیتي بنسټونو څخه غوښتنه کوي، چې د خبریالانو د امنیت په برخه کې جدي واوسي او د وژنو او تاوتریخوالي د مخنیوي په موخه دې له وړاندې تدابیر ونیسي. د پېښې پر وړاندې غبرګون په هیڅ صورت نشي کولای رواني غمیزې ته د حل کومه لاره واوسي.

- حکومت دې د خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو د وژنو د دوسیو د څېړنې او تعقیب په برخه کې له ټول جدیت څخه کار واخلي او پایلې دې په خپل وخت د هېواد له رسنیزو بنسټونو سره شریکې کړي. د خبریالانو د وژنو د دوسیو نه تعقیب له امله د حکومت نا غیرۍ د رسنیو ترمینځ شکونه راپورته کړي، چې حکومت د خبریالانو د ساتنې په موخه اراده نه لري او د قضیو د تعقیب په برخه کې جدي نه دی.

- د رسنیو مالکین او مسوولین دې د خپلو خبریالانو او رسنیو د کارکونکو د خوندیتوب په برخه کې لاس په کار شي او د ځان ساتنې وسایلو په چمتو کولو کې دې هڅې وکړي. د رسنیو د یوشمیر مسوولینو له لوري دخپلو خبریالانو او کارکوونکو خوندیتوب ته نه پاملرنه په جدي توګه د اندیښنې وړ ده. د خبریالانو پر وړاندې د پراخ تاوتریخوالي او د هدفي وژونو د مخنیوي په موخه د خبریالانو، رسنیو، د خبریالانو د ملاتړو بنسټونو او امنیتي ادارو همغږې او همکاري تر بل هر وخت زیاته اړینه ده.

- نړیواله ټولنه دې د افغانستان اوسنیو حالاتو ته په کتو د تېرو دوو لسیزو تر ټولو ستره لاسته راوړنه، چې د دوی په مرسته ترلاسه شوې ده له یاده نه باسي او د رسنیزو بنسټونو د ساتنې په برخه کې دې د هېواد د رسنیو کورنۍ ته لاس ورکړي. نړیواله ټولنه کولای شي د خبریالانو د زنځیري وژنو د ودرونې یا هم کم له کمه د هغو د را کمونې برخه کې اغیزناک رول ولوبوي، په هغو اورپکو ډلو چې د خبریالانو په هدفي وژونو کې لاس لري کولای شي لازم فشارونه راوړي، ترڅو د خبریالانو زنځیري وژنې پای ته ورسوي. نړیواله ټولنه همدارنګه کولای شي د افغانستان حکومت وهڅوي، تر څو اړوند بنسټونه د خبریالانو د امنیت په برخه کې کوټلي ګامونه واخلي.

- خبریالي یوه ناسیاسي ښکارنده ده چې وروستی هدف یې د عمومي ګټو خوندي کول دي. نو له دې کبله د سولې مذاکره کوونکي ټیمونه باید د رسنیو د ازادۍ ساتنه وکړي. دغه مسوولیت بیا په ځانګړې توګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت مذاکره کوونکي ټیم ته ورګرځي چې د جمهوریت د ارزښتونو د ساتنې ادعا لري. فعاله رسنۍ او د رسنیو ازادي نه یوازې دا چې د جمهوریت له مهمو نښونښانو څخه دي، بلکې رسنیو د ملت او دولت جوړونې په پروسه کې د پام وړ ونډه لرلې او لري یې.



AJSC

Afghan Journalists Safety Committee

کمیته مصونیت خبرنگاران افغان

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیته

ددې اثر د چاپ او خپراوي ټول حقوق د افغان خبریالانود خوندیتوب کمیتې سره محفوظ دي. د خپرندوی له
لیکلې اجازې پرته هر ډول کاپي کول، فوټوکاپي او بریښنایي خپراوی منع دی

د موندنی پته: د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیته

فتح الله خان کلا، کابل، افغانستان